دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

و برای الله جل جلاله بر مردم حج خانهٔ کعبه حق (فرض) است، بر آن کسیکه توان رفتن به آن (کعبه) را دارد و هر آن کسیکه کافر شود (از تعمیل این امر انکار ورزد پس وی به این بداند که) بیشک الله جل جلاله از عالمیان بی نیاز است.
(سورة ال عمران: ۹۷)

درس حدیث

ابوهریره رضی الله عنه می گوید: شنیدم که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: هرکس، بخاطر (رضای) خدا حج نمایـد و از مقاربت جنسی و مقدمات آن، (در زمان حج) پرهیز نماید و مرتکب معصیت نشود، چنان از گناه پاک می شود که گویی تازه از مادر متولد شده است. (صحیح بخاری)

PROPERTY OF ACKU

شهادت خلورم کال، ۲۹ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۰ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د لړم ۱۷ مه د۱۴۳۳ هـ ق د ذوالحجي ۲۲ مه د۲۰۱۲ م د نوامبر ۷ مه

تر څو چې په فساد کې ښکیل چارواکي محاکمه نشي ولس به زموږ په څرګندونو او فرمانونو باور ونکړي

د مالیې وزیر، د هرات د والي او ښاروال او د اوبو او انرژۍ د وزیر اسماعیل خان دوسیې څارنوالۍ ته لیږل شوي چې باید وڅېړل شي (لودین)

کابل، رسنۍ:
د اداري فساد پرضد د مبارزې اداره له لویې څارنوالۍ نه غواړي، چې په فساد کې د ښکیلو دولتي چارواکو دوسیې په جدي ډول وڅیړي او نتایج یې خلکو ته اعلان کړي.
د دې اداري رییس ډاکټر عزیزالله لودین وایي چې د یوه کال په موده کې د یو شمیر حکومتي چارواکو په ګډون د اداري فساد کابو یونیم سل دوسیې برابرې او لویې څارنوالۍ ته لیږل شویدي.
ډاکټرلودین د سې شنبې په ورځ له آزادي راډیو سره په خبرو کې ټینګار وکړ چې د دې دوسیو

پاتې ۴ مخ

دننګرهار ولایتي اداره دځمکو په غصب اودمخدره موادو په قاچاق کې لاس لري

د ننګرهار والي په خپل نوم خیریه صندوق جوړ کړې، چې د تورخم په لاره د تلونکو ډریورانو نه هره میاشت تر څلور میلیونو ډالرو راغونډوي او یاد رقم دګل آغا شیرزي شخصي جیب ته ځي

ګل اغا شیرزی په ننګرهار کې دښې اداري لپاره تر ټولو ستره ضربه ده. کاشکې چې ورڅخه خلاص شو (امریکایي افسر مارتین ویلمارت)

وال سټریټ ژورنال:
وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه وایي، چې څو کاله مخکې د امریکا پوځ د ننګرهار والي ګل اغا شیرزی د دې ولایت د امنیت ټینګولو لپاره تر ټولو ستره هیله ګڼله.
خو د ګل اغا شیرزي تر مشرۍ لاندې دا مهم ولایت چې له پاکستان سره په پوله پروت دی، د اداري فساد په مرکز بدل شوی دی.
د ننګرهار د والي ګل اغا شیرزي د فعالیت د

پاتې ۴ مخ

راسموسن:

افغانستان نباید در فعالیت های گروه بحران مداخله کند

کابل، رسانه ها:
سرمنشي ناتو اندرس فاگ راسموسن می گوید، گروه بین المللی بحران حق دارد نظریات اش را ابراز نماید و حکومت افغانستان نباید در فعالیت های این گروه، مداخله کند. پیش از این مقامات افغان گفته بودند که گروه بین المللی بحران، با انگیزه های سیاسی در افغانستان فعالیت می کند بناءً در این مورد بررسی ها را آغاز کرده اند.
این بیانات حکومت افغانستان بعد از نشر یک گزارش گروه بین المللی بحران ابراز شد که در آن حالات افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ وخیم پیش بینی شده است. سرمنشی ناتو گفت، نقطه ضعف این گزارش گروه بین المللی بحران این است که در این گزارش، نقش جامعه بین المللی در افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ نادیده گرفته شده است.

بقیه در صفحه ۴

تنش ها بین اردو و ستره محکمهٔ پاکستان وارد یک مرحله تازه شد

رسانه ها:
در چند هفتهٔ اخیر ستره محکمهٔ پاکستان با اردوی آن کشور که تاریخ طولانی مداخله در مسایل اجتماعی آن کشور را دارد، برخورد خیلی شدید انتقادی داشته است.
نخست جنرال پرویز اشفاق کیانی اعلامیهٔ را نشر کرد که عدهٔ آن را یک حملهٔ دقیق بر ضد ستره محکمهٔ آن کشور حساب کردند. در آن بدون این که از ستره محکمه نام گرفته شود، جنرال پرویز اشفاق کیانی گفت، کشور پاکستان از یک مرحلهٔ حساس و تعیین کننده می گذرد.
وی بطور آشکار هوشدار داد که نهاد های رهبری آن کشور در زمینهٔ کار هماهنگ ناکام شده اند.
از جنرال پرویز اشفاق کیانی نقل قول شده است که خطاب به افسران در قوماندانی عالی نظامی در راولپندی گفته بود:

بقیه در صفحه ۴

ډیلي اکسپریس ورځپاڼه:

برتانوي سرتیري د ځانونو په ژورو ټپي کېدو د جنګ له میدانه تېښته کوي

کابل، رسنۍ:
ډیلي اکسپریس ورځپاڼې په خپلې پرونۍ ګڼه دډاکترانو له خولې ګنبلي دي، چې یو شمېر برتانوي سرتیري په لوی لاس ځانونه ټپي کوي، چې په افغانستان کې له دندې او خدمت ځانونه وژغوري.
دانګلستان ددفاع وزارت ارقام ښايي، هغه سرتیري، چې په ناجنګي پېښو کې ټپي شوې دي شمېر دهغو په پرتله دوه ځلې زیات دی، چې په جنګي هغو کې ټپیان شوې دي او ټپونه یې ژور هم دي.
وزارت وایي: نږدې ۴۷۱ سرتیري دناجنګي پېښو دټپونو له کبله روغتون ته لیږدول شوي دي او دجنګي پېښو دټپیانو شمېر دتېر اګسټ تر پایه ایله ۱۵۱ و و. ورځپاڼه دنظامي ډاکتر له خولې کاږي: دسرتېرو ډېر شمېر ځانونه قصدي ټپي کوي چې په افغانستان

پاتې ۴ مخ

سازمان ملل، شبکه حقانی را در لست گروه های تروریستی جا داد

کابل، رسانه ها:
شورای امنیت سازمان ملل متحد روز دوشنبه تحریم های جهانی را علیه شبکه حقانی اعلان نمود. این عمل از سوی حکومت افغانستان استقبال شد، ولی طالبان آن را رد کردند.
شبکه حقانی که رهبران آن در پاکستان بسر می برند، مسوول حملات متعدد در داخل افغانستان بشمار می رود، از جمله حملات بر اهداف امریکایی، هندی و هوتل های بزرگ در کابل.
نام تنظیم کننده حملات انتحاری این شبکه قاری ذاکر در لست تحریم های سازمان ملل متحد جا داده شده است که به اساس آن

بقیه در صفحه ۴

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

صفحه سوم

محور سازی های بحران آفرین

اعزامی

صفحه دوم

افغانان د خپل راتلونکی په اړه ولې د غفلت په خوب ویده دي؟؟!

محمد خلیل

د نړۍ لوی هېوادونه لکه امریکا، اروپا، روسیه، چین، فرانسه، هندوستان، پاکستان، ایران او سعودي عربستان وخت ناوخت د افغانستان د اوسني او راتلونکي حالاتو په اړه پخپلو کې له یو بل سره خبرې اترې او د نظر تبادله کوي، څرګنده خبره ده چې دهغوی دا خبرې اترې د خپلو ګټو د تأمین په خاطر دي تر څو راتلونکی لپاره په افغانستان کې داسې کوم حالت پیدا نه شي چې دهغوی ګټې او یا امنیت وګواښي او له کړاوونو سره یې لاس او ګریوان کړي. دهغوی دا کارونه له خپل ولس او له خپلو ګټو سره د وفاداري او مینې ګواهي ورکوي چې له وړاندینه د خپل ښه راتلونکی په اړه فکر کوي او له احتمالي کړاوونو څخه د خلاصون په خاطر پلانونه او منصوبې جوړوي، خو بل لورې افغانان دي چې د خپل حال او مستقبل په اړه هیڅ پلان او منصوبه نه لري، نه له یو بل سره جرګه کېږي او نه هم پخپلو کې خبرې اترې او مفاهمه کوي، ټوله نړۍ لګیا ده د افغانستان په اړه پلان او پالیسي جوړوي خو افغان د خپل هېواد او ولس د ښه ژوند او ښه راتلونکی لپاره نه کوم پلان لري او نه هم کومه منصوبه، بلکې د ماشومانو په څېر بې غمه د رقابت په لوبو کې اخته دي، هر یو کوښښ کوي چې خپل رقیب شاته پرېږدي او د سیالیو ګټونکی شي.

بقیه در صفحه دوم

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د جنرال ګونیتر کتز څرګندونې افغانانو ته د منلو وړ نه دي

د تېرې دوشنبې په ورځ د ایساف ځواکونو ویاند جنرال ګونیتر کتز په یوه خبري کنفرانس کې وویل چې پر افغانستان د بهرني یرغل مخنیوی زموږ دنده نه ده، موږ دلته یواځې دې له پاره راغلي یو چې افغانستان یو ځل بیا د ترهګرو په خوندي ځای بدل نه شي، دلته زموږ د راتلو اصل مقصد دا دی چې له افغان چارواکو سره د سولې او ثبات په ټینګښدو کې مرسته وکړو خو دا زموږ په وظیفه کې نه ده شامله چې د بهرنیو عسکرو په وړاندې له افغانستان څخه دفاع وکړو.

جنرال ګونیتر چې کومې څرګندونې کړې دي هغه د افغانستان وګړو ته څکه د منلو نه دي چې هغه دهغو واقعیتونو له بیانولو څخه کلکه ډډه کړې چې ایساف ځواکونه یې مسؤل دي.

افغانستان ته د امریکایي او ایساف ځواکونو له راتلو وړاندې دلته نه چا ځانمرګی بریدونه او موټر بمونه پېژندل او نه هم د سړک د غاړې بمي چاودنې، نه د چا سر پرې کېده او نه د چا لاس او پښې، نه پر مړو متیازې کیدلې او نه هم د قرآن کریم بې حرمتي کیدله، نه ماشومان په سپیو داړل کېدل او نه هم دچا لاسونه او پښې پرې کیدلې، ګاونډیانو هم لدې وړاندې د افغانستان پر خاوره داسې توغندیز بریدونه نه وو کړي لکه څنګه چې د امریکایي او ایساف ځواکونو له راتلو وروسته بلاناغه هره ورځ یې کوي، دا هر څه هله منځ ته راغلل چې بهرنیو پوځیانو پر افغانستان خپلې پښې کیښودلې. لنډه دا چې افغانستان له کومو بدبختیو او ستونزو سره لاس او ګریوان دی ددې ټولو اصلي باعث د بهرنیو پوځیانو شتون دی نو څکه دا د امریکایي او ایساف ځواکونو دنده ده چې ددې ټولو ځواب پخپله ورکړي او افغانان له دې ستونزو څخه وژغوري، که له خپلې دندې نه اوړې سپکوي او د افغانانو پر اوږو یې اچوي نو دا سراسر بې انصافي او ظلم دی.

د ایساف ځواکونو ویاند پخپله دا مني چې دلته زموږ د راتلو مقصد دا دی چې افغانستان د ترهګرو په خوندی ځای بدل نه شي او له افغان چارواکو سره د سولې او ثبات په ټینګښدو کې مرسته وکړو خو ګرده نړۍ ګواه ده چې په افغانستان کې نه امن راغلی دی او نه ثبات بلکې د پخوا په نسبت نور هم په بدامنی بدل شوې دی. کومو افغانانو چې په افغانستان کې د بهرنیو پوځیانو په خلاف وسله اوچته کړې هغوی وایي چې بهرنیو ځواکونو افغانستان په زوره اشغال کړې او موږ د خپل هېواد د استقلال لپاره جنګېږو. ګویا د مخالفینو جنګ او مبارزه هم د بهرنیو پوځیانو د شتون له کبله پرمخ ځي، همداراز د سیمې د هېوادونو بربنډه مداخله او وسله والو مخالفینو ته پناه ورکول او تجهیزول هم لدې کبله دی چې هغوی په دې سیمه کې د امریکا او ناټو ځواکونو پر شتون خوشاله نه دي او غواړي ژر تر ژره له افغانستانه ووځي نو څکه د انصاف خبره داده چې ددې ټولو پېښو دفاع هم دهغوی په غاړه ده نه د افغانانو په غاړه.

که جنرال ګونیتر تر بوسو لاندې اوبه تېرول نه غواړي نو دا واقعیت دې ومني چې د امریکا په تجارتي ماڼیو حمله افغانانو نه، بلکې پخپله د امریکا په وینا د القاعدې غړو کړې وه چې له اوږدې مودې نه په امریکا کې اوسېدل او همغلته یې پیلوټي زده کړې وه، خو پر افغانستان یې په دې بهانه پوځي یرغل وکړ چې دلته د القاعدې مشر اسامه بن لادن اوسېږي، مطلب دا چې امریکا خپله جګړه افغانستان ته راوستله او دلته د القاعدې د نورو غړو د له منځه وړلو لپاره جګړه پیل کړه، نو څکه ددې جګړې ترسره کول هم د امریکایي او ناټو ځواکونو په غاړه ده او په دې ضمن کې چې پر افغانستان نور څومره بهرني یرغلونه کېږي دهغوی دفاع هم د ایساف ځواکونه دنده ده، آخر هغوی په کوم دلیل خپله جګړه د افغانانو په غاړه اچوي په داسې حال کې چې دا جګړه نه افغانانو پیل کړې او نه هم امریکایي او ایساف ځواکونو ته بلنه ورکړې چې خپله دغه جګړه افغانستان ته منتقله کړی بلکې له افغانانو نه د پوښتنې پرته په افغانستان کې خپل پوځونه دننه کړي او له ترهګرو سره د جګړې پر بهانه دلته خپلې پوځي اډې جوړې کړی دي چې د افغانستان وګړو ته له درد، تکلیف او مرګ ژوبلې نه پرته بل هېڅ ګټه نه ده رسیدلې، زرګونه بې ګناه وګړي د سړک د غاړې د بمونو او بریدونو له کبله مړه او ټپیان شوي دي، زرګونو وګړو د ایساف ځواکونو په هوایي او ځمکني بریدونو کې خپل ژوند له لاسه ورکړې او د زرګونو وګړو کورونه ویجاړ او پخپل هېواد کې تر شنه اسمان لاندې د هجرت شپې سبا کوي، هر چېرته او هر لورې ویرې ترخې خپلې تورې وزرې غوړولي دي او هر افغان د غمونو او اندېښنو په ډند کې ډوب دی سکون یې غارت شوې او خوبونه یې له سترګو تښتیدلي دي، که د ایساف ځواکونه خپل دغه جګړه د افغانانو په غاړه اچوي دا نو د ظلم دپاسه بل ظلم دی چې پر افغانانو یې کوي، نو څکه افغانان د جنرال ګونیتر له څرګندونو سره توافق نه لري او په کلکه غوښتنه ترینه کوي چې د خپلې ګټې لپاره د پیل کړې جګړې مسؤولیت دې پخپله په غاړه واخلي او په دې جګړه کې چې افغانستان ته کوم بهرنی خطره او یرغل متوجه کېږي دهغه د مخنیوی مسؤلیت دی هم په غاړه واخلي څکه چې په افغانستان کې د ټولو مصیبتونو، کړاوونو، دردونو، غمونو او وژنو اساسي لامل افغانستان ته د امریکایي او ناټو ځواکونو راتلل او دلته میشته کیدل دي او که امریکا او دهغې انډیوالان په افغانستان کې واقعاً امن، ثبات او استحکام ټینګول غواړي او په دې لاره کې له افغانانو سره په واقعي ډول مرستې ته حاضر وي نو بیا دې په دې خبره هم خپل سرونه خلاص کړي چې په تش لاس نه امن راتلی شي او نه هم د بهرنیو یرغلونو مخه نیول کیدای شي، دې لپاره ضروري ده چې د افغانستان پوځ په مدرنو او پرمختللیو وسلو سنبال کړی شي تر څو وتوانېږي په مؤثر ډول د خپلې خاورې دفاع وکړي او هېواد ته امن او استحکام په نصیب کړي، له بده مرغه پولس کاله کېږي چې امریکا او ناټو غړو هېوادو افغان پوځ ته داسې وسله نده ورکړی چې حساب ورباندې وشي، آخر دا تش لاسې پوځ او پولیس به څنګه وتوانېږي د بهرنیو یرغلونه مخه ونیسي او په هېواد کې امن او استحکام ټینګ کړي، که امریکا او ایساف ځواکونه پر افغانانو ملنډی نه وهي او واقعاً په افغانستان کې سوله، امن او استحکام دهغوی مقصد وي نو بیا لدې پرته بل هېڅ لاره نشته چې څومره ژر کیدلې شي د افغانستان اردو او پولیس په درنو او سپکو وسله سنبال کړي که داسې نه کوي او هسې تش لاسې پوځ باندې د داخلي او بهرنی دښمنانو د یرغلونو مخنیوې غواړي دا نو پر افغانانو استهزا او ملنډی وهل دي چې افغانان یې کله هم نه شي زغملې. امریکایي او ایساف ځواکونو پر وړاندې دوه لارې دی یا به د افغانستان پوځ او پولیس په پرمختللیو وسایلو سنبال او د خپلې خاورې د دفاع لپاره به جوګه کوي او یا به هم له افغانستان نه خپلې پښې سپکوي، که نه نو د افغانستان ولس به دهغوی د شر نه د نجات په خاطر ملي قیام وکړي.

محور سازی های بحران آفرین

اعزامی

محور سازی برای حل بحران افغانستان، برای یکتعداد از کشورهای دور و نزدیک ما به یک مشغله اساسی تبدیل گردیده است. علی رغم این همه محور سازی ها به بهانه حل بحران کشور ما، طی ده سال اخیر تا اکنون کوچکترین روزنهٔ امیدی از این محور سازی ها متصور نیست و حتی گفته می توانیم که همین محورهای مبهم و مشکوک، بجای اینکه برای حل بحران کشور ما مفید واقع شوند، برعکس مرجب پیچیدگی بیشتر قضیه و تشدید بحران گردیده است.

در سال های اخیر کشورهای عدیده ای اظهار آمادگی کرده اند که حاضر اند میزبان حل بحران افغانستان شوند و همچنان کشورهای که هم عملاً درین راستا قدم برداشته و با تشکیل محوری برای حل قضیه به گردهمایی ها و همایش های دو جانبه و چند جانبه تبدیل شده اند.

این محور سازی ها زمانی به اوج خود رسید که زعامت دولت افغانستان به این نتیجه رسید که معاملهٔ فیمابین دولت و مخالفین مسلح از راه جنگ و درگیری حل نمی گردد و بهترین گزینه پس از جنگ همانا مصالحه و آشتی میان دو طرف متخاصم است. اتخاذ پالیسی صلحجویانهٔ دولت موجب گردید که یکتعداد از کشورها با داشتن نیات و مقاصد نیک خواهانه و یا بد خواهانه وارد عرصه شوند و همان طوریکه در جریان سه دههٔ اخیر بیطرف نبودند، در صورت مصالحه میان افغان ها نیز نمی خواهند در زد و بندها از دول رقیب عقب بمانند.

چند سال قبل زمانیکه رئیس جمهور افغانستان از پادشاه عربستان سعودی خواهش کرد که بنابر نفوذ معنوی و داشتن رابطهٔ خوب با جناح های مخالف دولت در راه اندازی پروسهٔ صلح، بخاطر پایان جنگ و اعادهٔ صلح در افغانستان همکاری نماید، منطقه هنوز به این درخواست رئیس جمهور افغانستان پاسخ نداده بود که چندین کشور همسایه و غیر منطقه اظهار آمادگی کردند که حاضرند مذاکرات صلح میان دولت افغانستان و مخالفین مسلح را میزبانی کنند کشورهای ترکیه، ترکمنستان و قرغزستان در قدم اول و بعدتر کشورهای عربستان سعودی، ایران، قطر و آلمان از جمله دولی به شمار می روند که آمادگی نشان دادند که حاضرند با گشایش دفتری برای مدیریت پروسه صلح و ایجاد آدرسي برای مخالفین، مذاکرات صلح و تفاهم را آغاز نمایند.

هر زمانیکه یک کشور با تشکیل محوری تحت عنوان حل بحران افغانستان و راه اندازی مذاکره بین افغانستان و پاکستان و یا تفاهم با مخالفین اقدام نموده، چند هفته بعدتر دیده شده که کشور رقیب پا پیش کرده و با تشکیل محور دیگر به مقتضای منافع خودش، پای افغانستان را در حلقه کشانده است. همه بخاطر داریم که در یک مقطع دولت ترکیه بنابر داشتن علایق دیرینه با کشور ما با دعوت از رؤسای جمهور افغانستان و پاکستان در انقره، برای رفع اختلافات کابل و اسلام آباد، مساعی بخرج داد و این نشست ها سه چهار مرتبه در انقره تکرار شد.

ولی این محور هنوز به کدام نتیجهٔ منجر نشده و سیر تکاملی خود را می پیمود که دولت ایران ازین کاروان عقب نمانده و بنا بر دعوت رئیس جمهور آن کشور رؤسای جمهور افغانستان و پاکستان در تهران گردهم آمدند و به محوریت آقای احمدی نژاد، گفتگوهای را بخاطر حل اختلافات و حل بحران جستجو نمودند. چنانچه این سلسله نیز دو سه مرتبه در تهران تکرار گردید.

با دیدن این وضعیت **کشورهای عربی نیز بی تفاوت باقی نمانده**، عربستان سعودی یکی دو مرتبه با دعوت از نمایندگان دولت افغانستان و نمایندگان مخالفین مسلح در ریاض و مکهٔ مکرمه، خواست به جهانیان نشان بدهد که ریاض ظرفیت و توانایی آن را دارد که بجای زعمای کشورها، مستقیماً نمایندگان دو طرف درگیر را سرمیز مذاکره بنشاند.

وقتیکه این سه کشور بنابر داشتن علایق دیرینه با افغان ها، ثابت ساختند که می توانند محور حل بحران افغانستان شوند، دولت قطر در تبانی با مقامات ایالات متحدهٔ امریکا و بعضی از کشورهای اروپایی با صراحت اعلان داشت که با گشایش یک دفتر رسمی برای طالبان، آمادهٔ رهبری و مدیریت مذاکرات فیمابین مخالفین دولت افغانستان و جامعهٔ بین المللی به شمول ایالات متحدهٔ امریکا و افغانستان می باشد.

آنچه که قطری ها در مشوره با مقامات امریکایی انجام دادند، به مراتب جدی تر و پیشرفته تر از دیگران درین عرصه بود. چنانچه دفتر طالبان در دوحه تأسیس شد، خانواده های تنی چند از سران طالبان بخاطر اقامت به آنجا انتقال داده شد و روی خیلی از مسایل فیمابین تفاهم صورت گرفت. مگر بنابر نگرانی و یا نارضایتی دولت افغانستان از تشکیل حلقه جدید به محوریت قطر، مقامات قطری موفق به کسب رضایت همه اطراف درگیر و کشورهای ذیدخل در قضایای افغانستان نشدند و تقریباً یک سال می شود که دفتر صلح دوحه و مساعی حل بحران به محوریت قطر، دیگر همان گرمی روزهای اول تأسیسش را ندارد.

اگر از ذکر تلاش کشورهای همسایه و منطقه در محور سازی به بهانهٔ حل قضیهٔ افغانستان که بگذریم، کشورهای امریکایی و اروپایی نیز از داشتن چنین علایقی عاری نیستند. چنانچه دو سال قبل دولت آلمان با دعوت از نمایندگان طالبان، تمایل شدید خود را به تبدیل شدن به یک محور برای حل قضیه ابراز داشت و حتی گشایش دفتر طالبان در قطر در نتیجه گفتگو های مقامات آلمانی با طالبان در برلین زمینه سازی شد.

همچنان اخیراً کشورهای ایالات متحدهٔ امریکا و انگلستان با تشکیل حلقات جدیدی به محوریت خود شان سعی دارند تا این ابتکار را از دست کشورهای همسایه و اسلامی بربایند. در جریان جلسات امسال اسامبلهٔ عمومی ملل متحد، یک حلقه به محوریت امریکا و حلقه دیگر به محوریت انگلستان، مساعی بخرج دادند تا افغانستان، پاکستان و هند را تشویق نمایند، در رابطهٔ با، تأمین صلح و رفع اختلافات افغانستان و پاکستان با همدیگر به مذاکره و تفاهم بپردازند. به همین قیاس تبصره های دیگر حاکی از آنست که کشورهای چون چین و ... نیز در صدد حلقه سازی برای حل قضیه افغانستان به محور منافع خودشان اند.

آیا کشورهای که قضیهٔ افغانستان را با تشکیل همچو دسته هایی از یک یا چند کشور به محور منافع خود می چرخانند و با دادن وعده وعیدهایی بر ادامهٔ وفاداری کشور ما بر آن محورها تأکید می نمایند حالانکه این حلقه ها و محورها در رقابت با همدیگر و با انگیزه های متضاد و متناقض تشکیل شده اند، در اطفای بحران و ختم کشمکش های فعلی کشور ما کمکی خواهد کرد؟ آیا این گونه تلاش ها و مساعی در تقابل و مخالفت همدیگر، بجای حل معضله، بحران فعلی را بیشتر از بیش عمیقتر نمی سازند؟ !

بهتر اینست که کشورهای همسایه، کشورهای منطقه و کشورهای عضو ناتو و آیساف و بالاخره هر کشور ذیعلاقه دیگری که با هر نیت و انگیزه ای خواهان حل بحران افغانستان اند، دست از محور سازی های متناقض و بحران آفرین بردارند و همگان نیات و مقاصد شان را توحید نموده و بر گرد یک محور و زیر یک سقف که در آن فقط منافع مردم افغانستان تمثیل نور و حل واقعی بحران در آن نهفته است، گرد هم بیایند.

افغانان دخپل راتلونکی په اړه ولې دغفلت په خوب ویده دي؟؟!

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

په دې هېواد کې د خاورې، ولس او عقيدې د خدمت پرځای د نسل، ژبې، رنګ او سمت د خدمت شعار ورکول کېږي، ملي يووالې توټې، توټې کوي او هېوادوال په ګڼو نسلي او ژبنيو تعصبونو کې ويشي، د يو منظم او غښتلې صف پرځای په ګڼو صفونو کې ودروي د يو ملي شعار او دريځ پرځای متضاد شعارونه او دريځونه خپلوي، که يوه يې يو څوک د هېواد دښمن بولي نو بل يې دوست بولي، که يوه يې يوکار د هېواد او ولس په ګټه بولي نو بل يې په تاوان بولي، که يوه يې له يو هېواد سره د دوستۍ اړيکې ټينګوي نو بل يې ورسره د دښمنۍ اعلان کوي، که يوه يې په مرکزي نظام ټينګار کوي نو بل يې پر فدرالي نظام زور اچوي. لنډه دا چې داسې کار، نه کوي چې هغه د هېواد د استحکام او ثبات لپاره ګټور تمام شي.

څرګنده خبره ده چې د يو هېواد ثبات او استحکام دهغه ځای د اوسېدونکو يووالې او اتفاق سره اړيکه لري که ولسونه يې پخپلو کې يو غږ او يو لاس وي، يو شعار او يو دريځ ولري، ټولو په يو اتفاق د خپلې خاورې او ولس د خدمت او دفاع لپاره ملا تړلې وي، ټول په بشپړ اخلاص په يو صف کې ولاړ وي، يو بل ته د ورورۍ او همدردۍ لاسونه ورکړې وي، غښتلی ملي يووالې ولري، له هر ډول ژبني، نسلي او سمتي زهرجنو تعصبونو څخه پاک وي، يو هېواد او يو قائد غواړي، د قانون احترام خپل اسلامي او ملي فريضه بولي د داخلي او بيروني دښمنانو په خلاف په يو اتفاق جهاد کوي نو هېواد يې لازماً د امن، ثبات، استحکام او پرمختګ له نعمت نه برخمن کېږي او که له پورتنيو اوصافو څخه عاري وي نو له څه شک پرته داسې هېواد کله هم د امن، ثبات، استحکام او ترقي له نعمته نه شي برخمن کېدلې.

که موږ افغانان واقعيتونو ته خير شو او خپلې کړنې په سالم او ويښ ضمير کې وتلو نو دا نتيجه به ترلاسه کړو چې تراوسه مو د خپلې خاورې ولس او دين په اړه خپل اسلامي او ملي مسؤوليت نه دی ترسره کړې او په سلو کې اتيا کړاوونه او خطرات موږ پخپله پيدا کړې دي، د نورې نړۍ ولسونه غښتلی مرکزي حکومت غواړي او اطاعت يې کوي مګر موږ افغانانو محلي حکومتو ته ملاتړلې ده. د هرې ژبې، هر رنګ او هر نسل وګړي پخپلو پخپلو سيمو کې جلا جلا خپلواک حکومتونه غواړي، هر يو جلا جلا قائد لري او له څه قيد او شرط پرته يې اطاعت کوي. چا امريکا او اروپا ته د اطاعت سرايښې او چا هم ايران او پاکستان ته، څوک خپل بري د امريکا په خدمت کېويني او څوک د ايران، پاکستان او روسيې په خدمت کې. ولسي ګټې له ګوندي او نسلي ګټې نه قرباني کېږي او مرکزي حکومت له محلي حکومتونو نه قربانولې شي، کله چې د يو هېواد د اوسېدونکو دا حالت وي نو هلته امن، استحکام او ثبات څنګه راتلې شي؟! امن او ثبات نه هوايي مارغه ده چې افغانستان ته راشي او نه هم باران دی چې په افغانستان کې وورېږي بلکې دا په سلو کې سل د افغانانو کار دی چې د خپلو کړنو او کردارونو له لارې پخپل هېواد کې امن قائم کړي، لکه څنګه چې د بزګر له زيار پرته فصل او د باغوان له محنت پرته ميوه نه ترلاسه کېږي همداسې له خاورې، قانون او ولس سره د هېوادوالو د مينې، اخلاص، ملي يووالې، ورورولۍ او اتفاق پرته نه په هېواد کې ترقي راتلې شي او نه هم امن، ثبات او استحکام.

که د افغانستان مشران او په مجموعه کې ټول ولس پخپل هېواد کې د امن، استحکام او ثبات خوږ نعمت ليدل غواړي نو ددې يواځينۍ لاره داده چې پخپلو تېرو سياستونو او پاليسو له نوی سره کتنه وکړي، د فدرالي نظام پرځای مرکزي او ژبني، نسلي او سمتي سياستونه پرځای افغان شموله سياست خپل کړي د قانون احترام پرځان لازم وګرځوي او په يوه خوله دوست ته دوست، او دښمن ته دښمن ووايي. له څه توپير او امتياز پرته د هر افغان داسې خدمت وکړي لکه چې د خپل ځان او اولاد کوي.

په افغانستان کې د امن او ثبات د قائمېدو او د افغان ولس د پرمختګ يواځنی راز د افغانانو ملي يووالې او اتفاق کې دی، تر څو پورې چې افغانان پخپله د خپل هېواد د استحکام او ثبات لپاره جدي او ګړندي ګامونه اوچت نه کړی او د خپل ولس او خاورې خدمت پخپل ځان فرض عين ونه ګرځوي هېڅ امکان نه لري چې په افغانستان کې بل څوک د امن او استحکام راوستلو مسؤليت په غاړه واخلي بلکې لکه څنګه چې ومولیدل نور هېوادونو تل دا هڅه کړې افغانستان کله هم پخپلو پښو ونه درېږي او دومره يې کمزورې کړي چې طوعاً او کرهاً دهغوی د غوښتنو په وړاندې سرونه کېږدي، د افغانستان عملي او حقيقي زعامت د هغوی په غاړه شي او افغانان د يو غلام او بندي قوم په توګه د هغوی تر قيادت لاندې د ذلت ژوند تير کړي. که موږ پر خپل تېر تاريخ نظر واچوو نو د لمر په څېر به څرګند شي چې پرديو د افغانستان د خير ښېګڼې، امن او ثبات لپاره کله هم ګام نه دی پورته کړې بلکې تل يې کوښښ کړی دی چې افغانستان د هغوی مستعمره وي، پرون هم دا لوبه روانه وه او نن هم روانه ده، خو دا د افغانانو ذکاوت او هوښياري پورې اړه لري چې خپل ګريوان دهغوی د ناولو منګولو څخه څنګه ژغورلې شي؟ له څه شک پرته د افغانستان ولس د تاريخ په حساسه پړاو کې قرار لري، دښمنان يې خورا ډېر او دوستان يې له سره نشته، کوم هېوادونه چې د دوستي سينه ورسره ډبوي هغوی هم د پردی تر شاه څه چې ان ښکاره هم د افغانستان په تاوان کارونه پرمخ وړي او هغه څه کوي چې افغانان يې نه غواړي، افغانستان چې نن سبا په کوم ګرداب کې راګير دی او څلور خوا ترينه خامارانو خپلې خولې لګولي دي لدې نه د نجات لپاره خورا زيات استقامت، زغم، ذکاوت او ملي يووالې ته ضرورت دی، ټول افغانان که هغوی په اقتدار کې دي او يا هم له اقتدار نه بهر، موافق دي او که مخالف، د جنګ په ډګر کې دي او که د جنګ له صحنې نه دباندې، پښتون دی که تاجک، ازبک دی که هزاره، بلوچ دی که ترکمن، پشه يي دی او که نورستاني، ټولو ته پکار دی چې خپل ټول څواک او قابليت يواځې او يواځې د ملي تفاهم او ملي يووالې لپاره وقف کړي. د بې اتفاقۍ او بې باورۍ جرړې له بيخه وباسي هر چېرته او هر ځای کې چې د عصبيت ناره پورته کېږي هغه فوراً وځپي، ټول يو شعار او يو دريځ خپل کړي، دوست ته د دوستۍ کلک لاسونه ورکړي او دښمن ته د غابښ ماتوونکي ځواب لپاره تيارې ونيسي، ځکه چې زموږ يووالې زموږ د بقأ ضمانت دی او زموږ بې اتفاقي زموږ د نابود کېدو سبب ګرځي، غيرتي، ژوندي او ويښ قومونه د زمريانو په څير سرلوړی ژوند غواړي او ذليل قومونه د ګيدړانو په څير ذليل ژوند ته ترجيح ورکوي. راځئ موږ هم د خپلو تيرو اسلافو په څير د عزت ژوند ته ترجيح ورکړو او د خپلو لکونو شهيدانو وينې چې د استقلال او آزاد ژوند لپاره ورکړې دي تر پښو لاندې نه کړو.

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

(به ادامه شماره گذشته)

در حوزه های دینی و مباحث علمی توجه جدی به جایگاه جوانان در جامعه مدنی مبذول گردیده است. زیرا با پیدایش و تطورات تاریخی در جامعه مدنی، نگاه های سیاسی و اجتماعی را بیشتر از پیش در خود توجه جوامع انسانی قرار داده است. با شیوع جرثومه های استبداد و ظلم و فرومانروایی حاکمان مستبد بخصوص بعد از تحولات دو جنگ جهانی که شاهد تغییرات در رژیم های مختلف و تحولات در جوامع مدنی بوده، که نیروی اصلی جنگ را هم جوانان تشکیل مینمودند، ناگزیر از سیر این تحولات وسیع متأثر شدند. تلفات سنگین جنگ، برهم خوردن نظم جهانی، رقابت های دول استعماری بخاطر حاکمیت بالای حوزه های اقتصادی، پیدایش جنبش های ناسیونالیستی در غرب پدیده های بودند که نه تنها بر زندگی مادی بشر فشار وارد نمودند بلکه در محتویات و افکار جوامع نیز اثرات عمیق منفی از خود بجا گذاشتند. تمامیت ارضی ملت ها تهدید شد، سرمایه و دارایی ها بغارت رفت، آبادات تاریخی تاراج گردید، کشورها یکی پی دیگری مستعمره قوتهای مطرح در جنگ گردیدند، خلاصه اینکه به پیکر نو پای علم و دانش که ثمره جدو جهد هزارها سال انسانها در کره خاکی بود ضربات جبران ناپذیر و غیر قابل تحمل را وارد نمود. باسیلان این تکانها در هاله همین کشمکش ها بود که کشورهای اسلامی هم از تاثیرات ناگوار و تهدید کننده آن در امن نماندند. دول فاتح نه تنها از حدود کشورهای مخالفین خود پای فراتر گذاشتند. بلکه بر کشورهای مسلمانیکه با هیچ طرف درگیر تماس نداشتند نیز تاخت و تاز نمودند، که این کشور گشایی های غیر عادلانه بر روحیه جوانان در جوامع اسلامی و بالای حوزه ها دینی و مباحث علمی در کشورهای اسلامی تاثیر گذاشت. در چنین اوضاع و احوال دعوتگران جوانان مسلمان در کشورهای اسلامی با شعارهای ضد استعماری و ضد ناسیونالیستی غرب قد علم نمودند و درفش مبارزه و جهاد را در برابر استبداد و ظلم برافراشتند که آرام، آرام این جنبش ها جهان شمول گردید، غربی ها بخاطر اینکه جلو رشد سریع این حرکت را بگیرند با پخش اندیشه های نوین که همانا ایجاد کانون های ادبی بر شیوه دموکراسی و نظام های دموکراتیک برد. نیرنگ دیگری را بر معنویات جوانان وارد آوردند، با شعار خستگی از جنگ و زندگی آزاد بشر از شر هر نوع حکومت و حاکمان مستبد آزادهای بی قید و شرط را در چوکات حقوق بشر طی اعلامیه های صادر نمودند. عناوین مختلف سیاسی را بنام های لیبرالیزم، دموکراسی، ناسیونالیزم، سوسیالیزم، فیودالیزم، کمونیزم وغیره ایجاد نمودند که فقط اغوأ اندیشه جوانان و تغییر سیر فکری آنها از قلمرو دین بوده که چیز دیگری به ارمغان نیاورد.

جوامع مدنی غربی منحیث مدافعین حقوق بشر و نیروی تهدید کننده در برابر این نابسامانیها قدراست نمودند، ولی اینهم نه تنها بشر را از قید استکبار و ستم نجات ندادند. در عوض باعث ایجاد فضاهای ضد دینی و ضد اخلاقی گردیدند، جوانان مسلمان با سردادن شعارهائیکه مبین اراده انسان آزاد در پرتو فکر دینی و فهم عمیق از اندیشه های آن داشت، در برابر چنین جوامع عقاید شانرا ابراز نمودند و اسلام را یگانه دین آزادیبخش و نجات دهنده از سیطره استکبار و حیوانیت به جهان اعلان نمودند. مدنیت و فرهنگ را به مفهوم اصلی آن که ساختن انسان متکامل و با ارزش های واقعی انسانیت است قلمداد نمودند، این جوانان در مدت کوتاهی توانستند توجه جهانیان را بخود جلب کنند و منحیث نیروهای بازدارنده وارد میدان شوند. با ابراز عقاید و افکار اسلامی شان که خود در زیر سیطره حاکمان سیکولر و متأثر از فرهنگ وارداتی غرب در کشورهای شان بودند، انقلاب عظیم فرهنگی را براه انداختند. جوانان و نقش و جایگاه آنها را در جامعه مدنی تعریف و تفسیر نمودند از برکت تفکر و اندیشه همین جوانان مسلمان بود که سرزمین های افریقا، آسیا و اروپا را تکان معنوی خورد و انسانیت را با تمدن و فرهنگ اصیل و تاریخی آن...

ادامه دارد

سیمای نخستین شهدای نهضت، مؤسسین و نخبه گان آن در شعری از سید منصور حسین یار!

استکبار جهانی در دشمنی های کینه توزانهٔ خویش با مسلمانان راستین در هر برههٔ از زمان و هر گوشهٔ از جهان توانسته است نهضت اسلامی را هدف قرار داده و ضربات سنگینی را با به شهادت رسانیدن رهبران و مؤسسین آن بر پیکرش وارد نماید.

چنانچه شاهدیم مرحوم انجنیر حبیب الرحمن از بانیان نهضت اسلامی و اولین شخصیت بزرگوار و گرامی با براه اندازی دسیسه کودتا به شهادت میرسد.

سپس دشمنان سوگند خوردهٔ نهضت آرام ننشسته، یاران دیگر او را که پنج تن از بنیان گذاران و اولین هستهٔ نهضت اسلامی بودند، یکی پی دیگری با چنگال ظالمانه و خون آلود خویش اسیر و به شهادت رسانیدند، که شاعر حماسه آفرین سید منصور حسین یار در دیار هجرت در سال ۱۳۵۷ هـ ش پارچه شعری را با ذکر نام یاد و خاطره برانگیز داعیان برحق ایمان و عقیده مزین ساخته برایشان زمزمه کرد تا بتواند در پهلوی اینکه کمر بسته است راه آنها را ادامه دهد و انتقام مظلومیت شان را از ملحدان خدا ناشناس بگیرد، در عرصه شعر و ادب نیز رسالت خویش را در قبال ملت مظلوم و رهبران عزیز شان اداء نموده، نام و یاد آنها را در سروده های ادبی خویش منقوش نماید.

راهیان حق جهان را پرشکوه و فر نمود — تشنه گان راه حق را باده در ساغر نمود
آن نیازی تکسوار وادی علم و عمل — باطن و هم ظاهر آرایش به این زیور نمود
چون که در میدان پیکار و جهاد انداخت گام — کشور افغان زمین را همچنان محشر نمود
قطره خون حبیب الرحمن یار مؤمنان — راه گلگون شهیدان هر چه گلگون تر نمود
مولوی آن مرد دین و منبر و تقوا و زهد — نقطهٔ ارشاد انسان گوشهٔ منبر نمود
همچنان داکتر عمر با عطر سرخ خون خویش — دره و هامون میهن را پر از عنبر نمود
شور ایمانی سیف الدین و منصور خدا — دشمنان دین یزدان را چو خاکستر نمود
پیکر منحوس استعمار را کوبید سخت — خرمن شصت ساله او را پر از اخگر نمود

بی شمار حمد و ثناء آن ذات یکتا را که او
راهیان راه حق را وعدهٔ کوثر نمود

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

که رابرټ بيلز مجرم وپيژندل شي، اعدام به شي

ډيرو لويديځو ورځپاڼو د هغه امريکايي عسکر د محاکمې په اړه ليکنې او مقالې خپرې کړي، چې د کندهار په پنجوايي ولسوالۍ کې يې شپاړلس تنه عام وګړي وژلي وو.

د لاس انجلس ټايمز ورځپاڼه په دې اړه ليکي، امريکايي څارنوال د دې ډلې ييزې وژنې د څېړنې په برخه کې له ډيرو ستونزو سره مخامخ دي.

د ورځپاڼې په وينا د رابرټ بيلز په قضيه کې، چې د شپاړلسو افغانانو په وژنه تورن دی، شواهدو ته لاس رسی ستونزمن او کليدي شاهدان نشته.

لاس انجلس ټايمز ليکي، کله، چې دغه امريکايي سرتيري نيمه شپه له خپلې پوځي اډې بهر ووت، نو ډير افغانان په خواږه خوب ويده وو.

څه وخت وروسته د خبرداري غږ پورته شو او دا امريکايي سرتيری بيرته اډې ته ستون شو او خپله وسله يې په ځمکه کېښودله.

د يو امريکايي چارواکي په وينا هغه څه، چې هغه شپه په کندهار کې پيښ شول په افغانستان کې د ډله ييزې وژنې تر ټولو ناوړه پيښه وه.

لاس انجلس ټايمز ورځپاڼه وړاندې وايي، چې تر اوسه په دې برخه کې ترديدونه شته، چې د دې سرتيري په خلاف دې محکمې ته دوړاندې کولو لپاره کافي شواهد ترلاسه شي.

خو که چيرې نوموړی مجرم وپيژندل شي، په اعدام به محکوم شي.

تر اوسه بحثونه په دې اړه روان دي، چې رابرټ بيلز په پوځي محکمه کې محاکمه شي او که قضيه يې يوې ملکي محکمې ته وسپارلې شي.

د نوموړي محاکمه، چې دوه اونۍ دوام کوي، په ترڅ کې به يې له کندهاره د پيښې يو شمېر عيني شاهدان د ويډيو له لارې محکمې ته د سترګو ليدلې حال ووايي.

نيويارک ټايمز ورځپاڼې بيا په يو مطلب کې په ساختماني چارو د بهرنيو ځواکونو د وتلو اغيزې څېړلې دي.

ورځپاڼه ليکي، چې د کابل-جلال اباد سړک، چې دواړو غاړو ته يې د افغان او ناټو ځواکونو تاسيسات او د دوی قراردادي کمپنۍ پراته دي، د ساختماني چارو د درنو ماشينونو په هديرې د بدليدو په حال کې دي.

ورځپاڼې وړاندې د يو ساختماني شرکت د مالک شفيق احمد صديقي په حواله ليکلي، چې په تيرو دوو مياشتو کې د ده يو مشين هم چا په کرايي نه دې نيولې.

د نيويارک ټايمز ورځپاڼې په وينا شفيق احمد صديقي جرثقيلونه په کرايه ورکوي او دی د دغو جرثقيلونو ديرش بيلابيل ډولونه لري. ورځپاڼې د صديقي له خلې ليکلي، چې بهرنيان وځي او د دوی سرمايه په ډوبيدو دي.

د ورځپاڼې په وينا که څه هم په افغانستان کې د ساختماني چارو د رالويدو په اړه د شميرې ورکول ګران دي، خو په دغه کاروبار کې ښکيل کسان وايي، چې د امريکايي او ناټو ځواکونو د وتلو مسلې نه يوازې پوځي، بلکه د ساختماني چارو لګښتونه هم په عمومي ډول متاثره کړي دي.

د افغانستان د ساختماني چارو د اتحاديې اجرايوي مدير غلام علي دانش کمال وايي، چې په ساختماني چارو کې دا کمښت د ۲۰۱۲ ميلادي کال په لومړيو کې وروسته له هغې رامنځ ته شو، چې ۲۰۱۴ ميلادي کال د بهرنيو ځواکونو د وتلو د نيټې په توګه اعلان شو. نيويارک ټايمز د کمال په حواله ليکي، چې په روان کال کې په ساختماني چارو کې د پانګونې کچه له ديرشو نه تر څلويښتو فيصدو پورې لويدلې ده.

خو په افغانستان کې دپانګونې دملاتړې اداري مشروفيع اله افتخار وايي، چې حالاتو دومره هم خراب ندي، څومره چې ويلکيږي.

د ورځپاڼې په وينا افتخار وايي، هيله مند دي، چې په نږدې راتلونکې کې به ساختماني چارې يو ځلې بيا زور واخلي او دا ځکه، چې دده په وينا نړيوالې ټولنې په افغانستان کې د زيربناو د بيارغونې لپاره د ميلياردونو ډالرو د مرستې ژمنه کړې.

تر څو چې په فساد کې ښکېل ...

څېړل او په فساد او اختلاس کې د ښکيلو حکومتي چارواکو د نومونو افشا کول خلکو ته د نظام اعتبار زياتوي:

" د ماليې د وزير، د هرات د والي او ښاروال او د اوبو او انرژی د وزير په اړه دوسيې ټولې څارنوالی ته ليږل شوي چې بايد وڅېړل شي.

د دوی په اړه چې کوم اسناد موږ لرو ډير کره او دقيق دي.

ترڅو چې په فساد کې يوشمير ښکيل چارواکي محاکمه نشي ګمان نکوم چې افغانان زمونږ په څرګندونو او فرمانونو باور وکړي.

بايد د دې چارواکو دوسيې ژر وڅېړل شي او دا له لوی څارنوال صاحب نه زما يوه غوښتنه هم وه چې له هغه نه مې وکړه ".

د اداري فساد پر وړاندې دمبارزې رييس وويل چې د کابل او هرات د ښاروالانو د اداري فساد دوسيې يې هم لويې څارنوالی ته د څېړلو لپاره استولي دي.

عزيزالله لودين څرګنده کړه چې د بيلا بيلو مسوولو ادارو د ګډ پلاوي لخوا په مختلفو ادارو کې د اداري فساد د څېړلو لړی دوام لري.

لويه څارنوالی تاييدوي چې د ځېنو حکومتي چارواکو په ګډون د اداري فساد يوشمير دوسيې دوی ته رسيدلي او دا مهال تر څېړنو لاندې دي.

د لويې څارنوالی وياند بصير عزيزي آزادي راډيو ته وويل چې د اداري فساد او اختلاس په اړه د دوسيو څېړل ډير وخت ته اړتيا لري:

" کومې دوسيې چې موږ ته راغلي تر څېړنې لاندې دي خو څېړنې يې نه دي بشپړې شوي.

کله چې په دې اړه څېړنې بشپړې او جرم ثابت شي موږ يې محکمې ته استوو. کله چې محکمه پريکړه وکړي موږ کولای شو چې دمجرمينو نومونه رسنيو اوخلکو ته اعلان کړو ".

ترديږ وړاندې د اداري فساد پرضد د مبارزې ادارې د اوبو او انرژی پر وزير محمد اسماعيل تور پورې کړ چې په هرات کې يې د اويا مليونه امريکايي ډالرو په ارزښت ځمکې او ملکيتونه غصب کړي.

دغه راز د ماليې وزير عمر زاخيلوال هم د همدې ادارې لخوا تورن شو چې له بيلابيلو منابعو څخه يې کابو يو مليون ډالره خپل بانکي حساب ته ليږدولي دي. خو محمد اسماعيل او ډاکټر زاخيلوال دواړو له اداري فساد سره د مبارزې د ادارې دا تورونه رد کړيدي.

د افغان حکومت په ادارو کې د فساد د موجوديت له امله په ملي او نړيواله سطح انتقادونه موجود دي، حتی نړيوالې ټولنې هم له دې هيواد سره د خپلو مرستو د دوام لپاره د اداري فساد له مينځه وړل له اساسي شرطونو څخه بللي دي.

عامو وګړو د افغان حکومت لخوا له اداري فساد سره دمبارزې په برخه کې د هر اقدام هرکلی کړی او وايي چې په اداري فساد او اختلاس کې دښکيلو لوړ پوړو دولتي چارواکو نومونه هم بايد افشا او هغوی په ټينګه مجازات شي.

برتانوي سرتيري د ځانونو په ...

کې له دندې او خدمت ځانونه خلاص کړي او ددی چارې دترسره کولو لپاره مختلفې لارې چارې لټوي لکه چاقو او دزهري موادو کارول .

ډګرمن ريچارډ کيمپ ، چې په ۲۰۰۵ ز کې دبرتانوي ځواکونو قوماندان و، وايي: ځان ټپي کول کومه نوې پيښه نه ده له پخوا وه، خو لږه وه ما په خپلو ډير داسې سرتيري ليدلې دي ،چې دا چاره يې ترسره کړې ده ، دبرتانوي پوځ تګلار وايي : کوم سرتيري، چې ترديږ کچې ورسيږي هغه بايد دپوځ له ليکو وويستل شي ځکه دا په جنګې عملياتو کې نه په کاريږي او دګټې پر ځای يې زيان ډير وي .

اکسپريس وايي : له ۲۰۰۱ ز راهسې تر اوسه نږدې ۶۶۱۲ برتانوي سرتيري دجګړې له ډګره راويستل شوي دي ،چې ۲۰۰۵ يې دجګړې ټپيان وو.

د ننګرهار ولايتي اداره د ځمکو په ...

ارزوني رپوټ د افغانستان په ختيځ کې د امريکا د يوه لوړ رتبه ملکي چارواکي لخوا د "پټ اسناد" په نوم برابر شوی دی.

دا رپوټ د وال سټريټ ژورنال ورځپاڼې ته په لاس ورغلی دی.

ورځپاڼه وايي، په رپوټ کې ويل شوي، چې د ګل اغا شيرزي او د هغه د ادارې د غړو له خوا په سيستماتيک ډول اداري فساد خپور دی؛ چې په غير قانوني ډول باج اخيستل، په غير قانوني ډول د ځمکو نيول او د مخدرو موادو قاچاق په کې شامليږي.

دا ارزيابي چې د ډيپلوماټيکو اسنادو يوه مسوده ده؛ چې وروستی کتنې ته اړتيا لري.

د ګمرکونو د ملکي امريکايي کارپوهانو له خوا د "حساس " په نوم يو بل لنډ رپوټ هم ورته موضوع ته اشاره کړې.

امريکايي چارواکي وايي، چې دا رپوټونه کره دي او د جزياتو د دقت په اړه يې د بحث ځای نشته.

امريکايي مقامات دا هم تاييدوي، چې اداري فساد په ننګرهار کې يوه عمده ستونزه ده.

د امريکا د دفاع د وزارت (پنټاګون) يوه وياند قوماندان "ويليم سپيکس " د وال سټريټ ژورنال ورځپاڼې ته ويلي؛ چې دا وزارت د اداري فساد ادعاوې ډيرې جدي انګيري.

خو دې امريکايي چارواکي ويلي، د دې خبرې په ياد ساتل هم ډير مهم دي چې موږ په داسې موقف کې نه يو؛ چې د افغانستان رهبران وټاکو. دا خپله د افغانانو کار دی.

د ننګرهار د والي وياند احمد ضيا عبدالزی وايي؛ چې دوی ته هم د وال سټريټ ژورنال رپوټ رسيدلی، خو نه غواړي، چې په دې اړه په بيړه خبرې وکړي.

ښاغلي عبدالزي ازادي راډيو ته وويل؛ چې ډير ژر به د دې رپوټ د څرنګوالي په اړه د مطبوعاتو سره خبرې وکړي او د ولايت دريځ به څرګند کړی.

د والي وياند زياته کړه، چې موږ هم د دې ګزارش نه اګاهي ترلاسه کړې ده؛ چې وال سټريټ ژورنال خپور کړی، د دې ګزارش په رابطه به زموږ نظر وروسته څرګند شي، ښکاره به شي.

د ګل اغا شيرزي د فعاليتونو د ارزونې دا رپوټ، د استخباراتي معلوماتو او نورو سرچينو له مخې برابر شوی دی.

رپوټ وايي، چې د ننګرهار والي په خپل نوم خيريه صندوق رامنځ ته کړی، د تورخم په لاره د تلونکو ډريورانو څخه پيسې ورته ټولوي او په دې ډول يې زياته پانګه تر لاسه کړې ده.

په دې ډول هره مياشت د يونيم څخه تر څلورو مليونو ډالرو پورې پيسې د ګل اغا شيرزي جيب ته ورځي.

وال سټريټ ژورنال وايي، د ننګرهار والي په وروستيو کې د جرمنې په هوايي ډګر کې دوه ساعته نيول شوی وو؛ ځکه د ګمرک پوليسو له هغه سره د پيسو څخه ډک بکس موندلی وو.

خو رپوټ وايي، چې ګل اغا شيرزی د دې لپاره چې ډيپلوماټيک پاسپورت لري، وتوانيد چې خپلې پيسې ورسره وباسي او د ګمرک پوليسو اجازه ورکړه، چې جرمنې ته ننوزي.

وال سټريټ ژورنال په ليکنه، د ملکي امريکايي مامورينو رپوټ وايي، چې د ګل اغا شيرزي په اداره کې يو شمير چارواکو د هغو وسله والو چې پر امريکايي او افغان ځواکونو د حملې په وخت نيول شوي، د نيولو او محاکمې څخه مخ اړولی او په دې ډول يې وسلوال تشدد زمينه برابره کړې ده.

د وال سټريټ ژورنال په وينا، حتی په يوه مورد کې ګل اغا شيرزي په خپله د هغو شپږو تنو د خلاصيدو لپاره مداخله کړې وه؛ چې د ننګرهار په ګوشته ولسوالی کې د تقريباً ۵۰۰ کيلوګرام امونيم نايټريټ سره نيول شوي وو.

د ورځپاڼې په وينا، په سيمه کې امريکايي ملکي او پوځي چارواکي په دې ورځو کې په واضح ډول ګل اغا شيرزی د هغه فلج حکومت نښه ګڼي، چې له افغانستان څخه په ۲۰۱۴ کال کې د نړيوالو ځواکونو تر وتلو وروسته به افغانانو ته پاتې شي.

په ننګرهار کې د امريکا د پوځ د ملکي چارو يوه مسول مارتين ويلمارت وال سټريټ ژورنال ورځپاڼې ته ويلي : ګل اغا شيرزی په ننګرهار کې د ښې اداري لپاره تر ټولو ستره ضربه ده. کاشکې چې ورڅخه خلاص شو.

د ننګرهار د والي دفتر وايي، چې دا رپوټ يې ترلاسه کړی او ډير ژر به يې په ارتباط عکس العمل څرګند کړي.

سازمان ملل، شبکه حقانی را ...

کشورهای جهان باید بر ثروت ها و سیر و سفر ذاکر قیودات وضع نمایند.

در ماه سپتمبر ایالات متحده امریکا شبکه حقانی را در لست گروه های تروریستی جا داد و وزارت دفاع امریکا گفت که این شبکه به امنیت ملی امریکا تهدید بار می آورد.

شبکه حقانی در دوران جهاد افغانستان علیه شوروی تشکیل و تقویه یافت ولی بعداً این گروه با القاعده و اداره استخبارات نظامی پاکستان آی اس آی نزدیک شد. اکنون این گروه یکی از خطرناکترین گروه های می باشد که بر علیه قوای ناتو تحت رهبری امریکا در افغانستان می جنگند.

در اعلامیه سازمان ملل متحد آمده است که شبکه حقانی با القاعده، جنبش اسلامی ازبکستان و گروه های دیگر افراطگرا مانند تحریک طالبان پاکستان، لشکر جنگوی و جیش محمد ارتباط دارد.

سفیر ایالات متحده امریکا در سازمان ملل متحد سوزان رایس اظهار داشت افرادی که توسط قاری ذاکر تربیه شده بودند در سال ۲۰۱۰ بر دو قرارگاه ناتو حمله کردند. در هجوم آنها در ماه جون سال ۲۰۱۱ بر هوتل انترکانتیننتال ۱۱ نفر ملکی و دو پولیس افغان کشته شدند. در ماه سپتمبر سال ۲۰۱۱ به گفته سفیر امریکا در سازمان ملل متحد در نتیجه حمله این افراد بر سفارت امریکا در کابل، ۱۶ افغان از جمله شش طفل کشته شدند.

همین طور افراد این گروه به دست داشتن در حمله بر سفارت هندوستان هم متهم می شوند.

سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان سیاه مک هیروی اظهار داشت، هرچند این تحریم ها دیر اعلان شدند، اما حکومت افغانستان از آن استقبال و حمایت می کند. او اظهار داشت امیدوار است که فشار های منطقوی و جهانی علیه چنین گروه ها زیاد شود تا از صحنه خارج گردند.

سخنگوی طالبان ذبیح الله مجاهد این اقدام سازمان ملل متحد را رد نموده و گفت که چنین اقدامات بر فعالیت های آنها تاثیر نخواهد داشت.

شبکه حقانی که توسط جلال الدین حقانی بنیاذگذاری شده بود، اکنون توسط سراج الدین حقانی فرزند جلال الدین رهبری می شود.

لوی درستیز سابق امریکا ادمیرال مایک مولن سال گذشته گفته بود که شبکه حقانی به یک شاخه استخبارات نظامی پاکستان ISI تبدیل شده است.

افغانستان نباید در فعالیت های...

آقای راسموسن روز گذشته همچنان در مورد ماموریت ناتو بعد از سال ۲۰۱۴ در افغانستان هم بیانات داشته گفت، ناتو قادر خواهد بود بعد از سال ۲۰۱۴ هم در افغانستان فعالیت کند و این کار، براساس تقاضای حکومت افغانستان صورت خواهد گرفت.

"ما بعد از سال ۲۰۱۴ هم بر اساس تقاضای حکومت افغانستان می توانیم در آنکشور فعالیت داشته باشیم. این کاملاً در مطابقت با قوانین بین المللی است. برعلاوه این، اگر ما بتوانیم یک ماموریت تصویب شده از سوی ملل متحد را هم داشته باشیم، به نظر من خیلی خوب خواهد بود، ولی ما می توانیم بر اساس یک دعوتنامه حکومت افغانستان در آنکشور، فعالیت نماییم."

سرمنشی ناتو در بیانات اش همچنان، از اعلان تاریخ انتخابات ریاست جمهور در افغانستان استقبال نموده گفت، برای دایر شدن این انتخابات، امنیت از نقش کلیدی برخوردار است و باید نیروهای امنیتی افغان، رهبری تامین امنیت پروسه انتخابات سال ۲۰۱۴ در کشورشان را به عهده داشته باشند. راسموسن گفت، تدویر این انتخابات تغییر را در ستراتیژی ناتو در افغانستان وارد نخواهد کرد.

" این حقیقت که انتخابات ریاست جمهوری در افغانستان در بهار سال ۲۰۱۴ سازماندهی می شود ستراتیژی ما را تغییر نخواهد داد. ما به هدف سپردن کامل مسوولیت های امنیتی به قوای افغان تاپایان سال ۲۰۱۴، انتقال این مسوولیت ها را همچنان ادامه خواهیم داد."

آقای راسموسن همچنان ابراز داشت، شرایط امنیتی مناطق که مسوولیت های امنیتی آن به نیروهای افغان سپرده شده است، خوب اند و بر اساس معلوماتی که هیات فرستاده ناتو اخیراً از ولایات هرات، بلخ و کابل به دست آورده است، مردم به شکل عادی زنده گی روزمره شانرا ادامه می دهند و این مناطق امن و باثبات اند.

تنش ها بین اردو و ستره...

"هیچ شخص و یا نهاد نمی تواند بگوید که در تعریف نهایی منافع ملی پاکستان، چی درست و چی هم نادرست است."

چند ساعت بعد از آن دفتر افتخار محمد چودری رییس ستره محکمه، پاکستان متن یک بیانیه، ۹ صفحه یی را نشر کرد که خطاب به یک گروپ از بیروکرات های آن کشور ایراد شده بود و به نظر می رسید که در حمله، متقابل بر ضد انتقاد های جنرال پرویز اشفاق کیانی صورت گرفته است.

در این بیانیه افتخار محمد چودری با ابراز اینکه، محکمه، وی عالیترین مقام حراست از قانون اساسی پاکستان می باشد، با اشاره، مستقیم به اردوی پاکستان که در نصف حیات ۶۵ ساله، آن کشور قدرت را بطور مستقیم در دست داشت، گفته است: "زمانه های که ثبات و امنیت پاکستان با تعداد راکت ها و تانک ها تعریف می شد، دیگر سپری شده است."

شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هرليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت کې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• راليږل شوي مطالب نه سترديږي . يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ډيزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه . کابل . افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com